**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# اسلامي ښوونه او روزنه

## جعفري مذهب

### دریم ټولګی

ي. په
ه. له

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹[illegible] هـ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## جعفري مذهب

## دریم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لیکونکی:

۱. محمد عزیز بختیاری، محمد باقر جعفری او سید عبداللطیف سجادی.

**ژباړونکی:** عبدالرقیب جهید.

## د تدقیق کمیټې:

## د پوهنې د وزارت علمي غړي:

۲. محمد عزیز بختیاری، محمدباقر جعفری، سیدعبدالوهاب رحمانی، یار محمد باقری، سید محمد حسین فرهنگ او فاروق انصاری.

**د نورو ارګانو غړي:**

۳. سید حسین عالمي بلخي په ولسي جرګه کې د عدلي او قضایي کمیسیون غړی.

۴. نعمت الله غفاري په ولسي جرګه کې د ښونې او روزنې او لوړو زده کړو د دیني کمیسیون غړی.

۵. مولوي عبدالعزیز په ولسي جرګه کې د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو د دیني کمیسیون غړی.

٦. قاضی نذیر احمد حنفي په ولسي جرګه کې د تقنین د کمیسیون مرستیال.

۷. سید عبداللطیف سجادي د شیعه علماوو د شورا غړی.

۸. مولوي عین النعیم د علماوو د سراسری شورا غړی.

**سیاسي فرهنګي کمیټه:** د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمی نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست علمي او مسلکي غړی.

### د مطالبو فهرست

### د قرآن کریم زده کړه

د قرآن کریم زده کړه ........ ۱–۱۰

### د اسلامی ښونه او روزنه مضمون

لومړی برخه: عقاید ........ ۱۱–۲۸
دهم برخه: احکام ........ ۲۹–۴۹
دریم برخه: آداب او اخلاق ........ ۵۰–۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزیر پیغام**

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قرآن کریم مضمون

## لومړی لوست

## د اخلاص د سورت هجايي ویل

**هدف:**

**په هجايي ډول د قرآن کریم یادول.**

**پوښتنې:**

**اياکولاي شئ چې د اخلاص سورت په هجايي ډول ووایاست؟**

**داخلاص سورت په هجايي ډول ولولئ.**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ
يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾

**هڅونې**

١_ د اخلاص سورت په هجايي ډول ولولئ.

٢_ د اخلاص سورت په یاد ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم لوست

# د کوثر د سورت هجايي ويل

**هدف**

په هجايي ډول د قرآن کريم لوستل.

**پوښتني**

- آيا کولاى شئ چې دکوثر سورت په هجايي ولولى؟

## دکوثر سورت په هجايي ډول ولولئ:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴿١﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿٢﴾ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿٣﴾

**هڅونه**

۱. دکوثر سورت په روانه ولولئ.

۲. دکوثر سورت په يادو زده کړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېیم لوست

## په یادو او روان لوستل

**هدف**

په یادو او روان لوستل.

**پوښتنې**

آیا کولای شئ چې دکافرون سورت په روانه ولولئ؟

**دکافرون سورت په روانه ولولئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱﴾ لَاۤ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۲﴾
وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ﴿۳﴾ وَلَاۤ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ﴿۴﴾ وَ
لَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ﴿۵﴾ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ﴿۶﴾

**هڅونه**

۱_ د کافرون سورت په روانه ولولئ .
۲_ د کافرون سورت په یادو وواياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم لوست

## په یادو او روان لوستل

**هدف**

په یادو او روان لوستل

**پوښتنې :**

ایا کولای شئ چې د فلق سورت په روانه ولولئ؟

**د فلق سورت په روانه ولولئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا
وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾

**هڅونه**

١. د فلق سورت په روانه ولولئ.

٢. د فلق سورت په یادو زده کړئ .

# پنځم لوست

## په يادو او روان لوستل

**هدف**

په يادو اوروان د قرآن كريم لوستل

**پوستني**

آياكولاى شئ د ناس سورت په روانه ولولئ؟

**د ناس سورت په روانه ولولئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِىْ يُوَسْوِسُ فِىْ

صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

**هڅونه:**

١. د ناس سورت په روانه ولولئ.

٢. د ناس سورت په يادو زده كړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم لوست

## په روانه ویل

**هدف**

قرآن کریم په روانه لوستل

**پوښتني**

آیاکولای شئ چي د عصر سورت په روانه ولولئ؟

**دعصر سورت په روانه ولولئ:**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ﴿٢﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ
عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿٣﴾

**هځونه :**

د عصر سورت په روانه ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوم لوست

## په روانه لوستل

**هدف**

قرآن کریم په روانه لوستل.

**پوښتنې**

آیاکولای شئ چې د نصر سورت په روانه ولولئ؟

**د نصر سورت په روانه ولولئ؟**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ
اللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾

**هڅونه :**

دنصر سورت په روانه ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم لوست

## په روانه لوستل

**هدف :**

قرآن کریم په روانه لوستل.

**پوښتنې**

آیاکولای شئ د قدر سورت په روانه ولولئ؟

**د قدر سورت په روانه ولولئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿١﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿٢﴾ لَيْلَةُ
الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ﴿٣﴾ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ فِيْهَا
بِاِذْنِ رَبِّهِمْ مِّنْ كُلِّ اَمْرٍ ﴿٤﴾ سَلٰمٌ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿٥﴾

**هڅونه :**

د قدر سورت په روانه ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم لوست

## په روانه لوستل

**هدف:**
د قرآن کريم په روانه لوستل

**پوښتني:**
اياکولای شئ چې د زلزال سورت په روانه ولولئ؟

**د زلزال سورت په روانه ولولئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴿٢﴾
وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ
رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا
أَعْمَالَهُمْ ﴿٦﴾ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿٧﴾ وَمَنْ
يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴿٨﴾

**هځونه :**
د زلزال سورت په روانه ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم لوست

## په روانه لوستل

**هدف**

د قرآن کریم په روانه لوستل.

**پوښتنې**

ایاکولای شئ چې د عادیات سورت په روانه ولولئ؟

**د عادیات سورت په روانه ولولئ:**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا ﴿١﴾ فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا ﴿٢﴾ فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا ﴿٣﴾
فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا ﴿٤﴾ فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا ﴿٥﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ
لَكَنُودٌ ﴿٦﴾ وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴿٧﴾ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴿٨﴾
أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ ﴿١٠﴾
إِنَّ رَبَّهُم بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ ﴿١١﴾

**هڅونه** : د عادیات سورت په روانه ولولئ



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمړۍ برخه: عقـــايد

لومړی لوست:

## د دين اصول

هدف: د دين د اصولو پيژندل.

پوښتنې:

- آيا د دين اصول پيژنئ؟
- آيا کولی شئ چې په دغو اصولو رڼا واچوئ؟

تاسو په دوهم ټولګي کې هم لوستي وو چې زموږ د دين او مذهب اصول پنځه دي.

۱. توحيد: يعنې د الله ﷻ په يووالی ايمان او باور لرل. توحيد د اسلام د دين له اصولو څخه دی. هر څوک چې د الله ﷻ په يووالی او وحدانيت ايمان ونه لري هغه مسلمان نه دی.

۲. عدل: يعنې دا چې الله ﷻ عادل ذات دی او ظالم ندی، او ټول مسلمانان د الله ﷻ په عدالت ايمان او باور لري. موږ ايمان لرو چې الله ﷻ په هيڅ ظلم نه کوي او د هغه ټول کارونه په عدالت ولاړ دي.

۳. نبوت: يعنې په دې ايمان لرل چې الله تعالی ډير پيغمبران د خلکو د هدايت او لارښوونې لپاره راليږلي دي او موږ د الله تعالی په ټولو پيغمبرانو ايمان لرو. زموږ پيغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ دی څوک چې د حضرت محمد ﷺ په پيغمبری او نبوت ايمان نه لري هغه مسلمان نه دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. امامت: یعني دا چې دوولس امامان له پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم څخه وروسته د امت د لارښوونې دنده په غاړه لري.

امامت د شیعه مذهبونو له اصولو څخه دی.

۵. معاد: یعني دا چې ټول انسانان وروسته له مرګ څخه بیرته ژوندي کیږي او څوک چې په معاد ایمان او باور نه لري هغه مسلمان نه دی.

### هڅوني:

۱. تاسو له دې درس څخه څه زده کړی دي؟ په لنډه توګه یې په پنځو کرښو کې ولیکئ.

۲. ستاسو په نظر او فکر سره دغه پنځه اصله یو له بل سره څرنګه رابطه او اړیکې لري؟ په دوو کرښو کې یې بیان کړئ.

### ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې د پورتني مطلب په هکله د شاګردانو سویه وګوري چې هغوی په صحیحه توګه د اسلام په پنځه بناوو پوه شوي او که نه؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست

# طيبه کلمه

**موخه:**

د طیبې کلمې (لااله الاا لله محمد رسول ا لله) سره آشنايي.

**پوښتنې**

- آيا طيبه کلمه لااله الاالله محمد رسول ا لله په ياد لرئ؟
- آيا د طيبې کلمې په معنا پوهيږئ؟

تير کال مو زده کړل چې انسان د طيبې کلمې په ويلو (لااله الاالله محمد رسول الله) مسلمانيږي.

د طيبې کلمې معنا داده: «پرته له خدای تعالیٰ څخه هيڅوک د عبادت وړ نه دی، او حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم د خدای تعالیٰ رسول او استازی دی»

د طيبې کلمې ويل ډېر ارزښت لري، ځکه انسان د کلمې په ويلو سره له هر باطل دين او غلطې عقيدې لير يوالی مومي او يوازې د يو واحد خدای تعالیٰ، چې د ټولو موجوداتو پيدا کوونکی دی، ايمان راوړي او د حضرت محمد صلی الله عليه و آله و سلم په پيغمبری، چې د پيغمبرانو خاتم دی، اقرار کوي. څوک چې په دې لنډه، خو له ارزښت نه ډکه جمله ايمان ولري، له



(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دين څخه پيروي کوي چې الله تعالیٰ د حضرت محمد (ص) په واسطه انسانانو ته رالیږلی دی.

**هڅونې:**

۱. د طیبې کلمې معنی به زده کړي.
۲. د طیبې کلمې ارزښت په پنځو کرښو کې ولیکئ.

**ارزونې:**

۱. آیا زده کوونکي د طیبې کلمې په معنا پوهیدلي دي؟
۲. آیا زده کوونکي کولی شي چې د طیبې کلمې ارزښت، هغسې چې په لوست کې راغلی دی، توضیح کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

درېيم لوست

# توحيد

**موخه:**

د يو خداى پېژندنه.

**پوښتنې:**

- آيا خداى تعالىٰ پېژنئ؟
- ولې پر خداى تعالىٰ باندې ايمان لرو؟

زموږ د دين او مذهب له پنځو اصولو لومړنى اصل، توحيد دى. توحيد يعنى په يوخداى باور درلودل. موږ مسلمانان په يوه خداى ايمان لرو.

خداى تعالىٰ موږ ته ډېر نعمتونه راکړي دي. اوبه، خواړه، او خوندورې ميوې چې موږ يې خورو، موږ ته را په برخه کړي دي. خداى تعالىٰ موږ ته مهربان مور او پلار را کړې دي چې له موږ څخه ساتنه وکړي.

خداى تعالىٰ په خپلو بنده ګانو لورينه او پېرزوينه لري او زيات نعمتونه يې د دوى په واک کې ورکړي دي چې په ښه توګه ور څخه ګټه واخلي.

خداى تعالىٰ خپل پيغمبران را استولي دي چې انسانانو ته د ژوند سمه لاره وښيي.

خداى تعالىٰ ډېر پوه او د قدرت خاوند دى.

ټول موجودات، خداى تعالىٰ پيدا کړي دي. خداى تعالىٰ چې دا نړۍ په دې لويوالي پيدا کړې ده. نو هغه د ډېرې پوهې او قدرت خاوند دى.

آيا تر اوسه مو سوچ کړى دى چې ستاسو د باغچې ګلان چا پيدا کړي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

بې له پوه او با حکمته خدای تعالیٰ څخه څوک کولی شي، داسې ښکلي ګلان شنه کړي؟

د اسلام دین یو بشپړ او کامل دین دی چې د قیامت تر ورځې پورې پاتې دی او وروسته له هغه بل دین د خدای تعالی له لورې نه راځي.

اسلام زموږ د دنیوي چارو د سمون په برخه کې طرح او کړنلاره لري او هم زموږ د آخرت له پاره لار ښوونې لري. هره هغه ټولنه چې د اسلام سپڅلی دین په ښه توګه مراعات کړي او بې له کموالي او زیاتوالي هغه په خپل ژوند کې تطبیق کړي په دنیا او آخرت کې نیکمرغه کېږي.

## هڅونه:

۱. هغه نعمتونه چې خدای تعالیٰ تاسو ته در په برخه کړي دي په یوه پاڼه کې یې لیست کړئ.

۲. زده کوونکی دې د څلورو او پنځو ډلو په ترڅ کې د خدای تعالیٰ د یوه مخلوق په باب خبری اترې وکړي چې څرنګه د خدای تعالیٰ پر وجود باندې دلالت کوي او وروسته دې د هرې ډلې استازی خپل استدلال ټولګیوالو ته و وایي او نور دې په استدلال باندې قضاوت وکړي.

## ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي کولی شي د خدای تعالیٰ لویوالی او عظمت بیان کړي؟

۲. آیا زده کوونکي په ساده توګه کولی شي چې د مثال په توګه خدای تعالیٰ ګل پیدا کړی دی استدلال وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# الهي عــدل

**موخـه:**

د خدای تعالیٰ له عدالت سره آشنايي

**پوښتنې:**

- آيا د عدالت په معنا پوهیږئ؟
- آيا پوهیږئ چې الله تعالیٰ عادل دی او پر هیڅا ظلم نه کوي؟

موږ عقیده لرو چې خدای تعالیٰ عادل دی او په هیڅ یو بنده باندې ظلم او زور زیاتی، نه کوي ﴿ إن الله لا یظلم الناس شیئاً﴾ سوره یونس آیت (۴۴). هر څوک چې پر بل چا باندې ظلم او تیری کوي یا به دده له جهل او نا پوهۍ څخه وی او یا به د ده د اړتیا او ضرورت په علت وي. د بیلګې په ډول: کله چې څوک ظلم کوي یا نه پوهیږي چې ظلم ناوړه کار دی او یا له دې له کبله چې ددې کار څخه غواړي داسې څه لاسته راوړي چې نه یې لري او ورته اړ دی. مګر لوی خدای جل جلا له هم په هر شی علم لري او هم هیڅ نقص نلري او محتاج نه دی، دې ته اړ نه دی چې په چاباندې ظلم او زیاتی وکړي. له دې ځایه موږ پوهیږو چې عدالت یو ښه کار دی او د الله تعالیٰ غوره بند ګان باید له خلکو سره په عدل او انصاف چلند وکړي، لکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي:

﴿ إن ا لله يأمر بالعدل و الإحسان﴾ {نحل/ ۹۰}

ظلم او زیاتی ډېر نا وړه کار دی او د خدای بند ګان هم باید له هغه څخه ځان لیري کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

مهربان خدای هم ثو ثو ځلې په قرآن کریم کې فرمایلې دي چې الله تعالیٰ له عادلو انسانانو سره مینه لري( إن ا لله یحب المقسطین{مائده/۴۲) ظالم او جابر خلک نه خوښوي، لکه چې فرمايې: ( و الله لایحب الظالمین{آل عمران/۷۵} ).

**هڅونه:**

۱. توضیح کړئ چې الله تعالیٰ څرنګه عادل دی او ظلم نه کوي؟

۲. د تا سوله نظره ولې خدای تعالیٰ عادل دی؟

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي د الٰهی عدل صحیح معنا زده کړې ده؟

۲. آیا هغوی کولی شي د هغه دلیل توضیح کړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

# الهي پیغمبران او آسماني کتابونه

موخه:

له الهي پیغمبرانو او آسماني کتابونو سره آشنایي.

پوښتنه:

- آیا پوهیږئ چې الهي پیغمبران کوم کسان دي؟

آیا پوهیږئ چې خدای تعالیٰ د انسانانو د لار ښوونې د پاره څو کتابونه را استولي دي.

تاسو پوهیږئ چې زموږ د مذهب له پنځو اصولو څخه دریم اصل نبوت دی.

نبوت په دې معنا چې خدای تعالیٰ د انسانانو د لار ښوونې د پاره خپل پیغمبران را لیږلی دي.

خدای تعالیٰ د بشر د پیدا ایښت له پیل څخه تر اوسه پورې یو لک و څلور ویشت زره شا وخوا پیغمبران را لیږلي دی، چې لومړنی یې حضرت آدم علیه السلام او وروستنی یې حضرت محمد مصطفي صلي ا لله علیه و آله و سلم دی. موږ په ټولو الهي پیغمبرانو ایمان لرو.

خدای تعالیٰ له خپلو بندګانو سره زیاته مینه لري، نه غواړي چې هغوی بې لاره شي، له همدې لامل پیغمبران چې ډیر غوره او بشپړ انسانان دي دهغوی تر مینځ یې را استوي او خپل دین چې د ژوندانه ډیره ښه اوغوره لاره ده، د پیغمبرانو په واسطه خلکو ته ورزده کړي.

حضرت محمد مصطفي صلي ا لله علیه و آله و سلم د اسلام ګران پیغمبر دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت محمد (ص) د پیغمبرانو غوره او خاتم الانبیاء دی.

هغه(ص) له ټولو انسانانو څخه عزتمن او له ټولو نه ګران دی او په اخلاق، کمال او لویوالي کې هیڅوک له هغه (ص) سره نه برابرېږي.

آسماني کتابونه دا دي:

۱. تورات، چې پر حضرت موسی علیه السلام نازل شوی دی.

۲. زبور، چې پر حضرت داؤد علیه السلام نازل شوی دی.

۳. انجیل، چې پر حضرت عیسی علیه السلام نازل شوی دی.

۴. قرآن کریم چې پر حضرت محمد صلي ا لله علیه و آله و سلم نازل شوی دی

**هڅونه:**

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي، هره ډله دې پنځه پوښتنې د لوست له متن څخه جوړې کړي او وروسته دې د هرې ډلې استازي د ننه په ټولګي کې د نورو ډلو له غړو څخه پوښتنه و کړي.

ښوونکې دې د هرې ډلې نمرې پر تخته باندې ولیکې او په آخر کې دې د ځوابونو په اساس ډلو ته نمرې ورکړي.

**ارزونه:**

۱. خدای تعالیٰ یو لک او ........ پیغمبران را لیږلي دي.

۲. تورات پر حضرت ............ نازل شوی دی.

۳. خدای تعالیٰ پیغمبران علیهم السلام د انسانانو د ........ له پاره را لیږلی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رحمت نبی

موخه:

د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم له ستر شخصیت سره آشنایي.

پوښتنې:

- پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم څومره پیژنئ؟
- آیا پوهیږئ چې پر پیغمبرصلی الله علیه وآله وسلم څه ډول درود ووایو؟

زموږ ګران پیغمبر، حضرت محمد مصطفی صلی ا لله علیه و آله و سلم د ماشومتوب له دورې څخه، یو پاک، نیک کردار او مهربان انسان و. له دې امله خدای تعالیٰ هغه په پیغمبری غوره کړ او خپل پیغامونه یې هغه ته ولیږل چې ټولو انسانانو ته ورسوي.

هغه (ص) همیشه انسانان نیکی او ښوکړنو ته بلل، د خلکو په منځ کې په امانتداری او ښوکارونو مشهورو.

له همدې کبله، ټولو خلکو به آنحضرت (ص) ته محمد (امین) یعنی (امانت دار) ویل کله چې د اسلام پیغمبر د مشرکانو دظلم او زور زیاتي څخه په تنګ او مجبور شو خپل ټاټوبی یې پریښود او په مخفیانه ډول یې یثرب (مدینې منورې) ته هجرت وکړ، کورېې د خلکو له اماتنونو څخه ډک و، نو حضرت علی (رض) ته یې دنده و سپارله چې د خلکو اماتنونه دهغو خاوندانو ته بیرته ورکړي.

موږ له خپل پیغمبر سره ډېره مینه لرو او تل هغه په درناوي او عزت یاد وو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای تعالیٰ او پرېښتې پر هغه(ص) صلوات وايي او خدای تعالیٰ موږ ته هم امر کړی دی چې پر آنحضرت (ص)صلوات و وايو. له دې کبله هر وخت چې د آنحضرت (ص) مبارک نوم اورو پر آنحضرت (ص) صلوات استوو.

**اللهم صل علی محمد و آل محمد**

**هڅونه:**

د ښوونځی د کتابتون او یا د جومات (امام) په مرسته د حضرت پیغمبر اسلام په اړوند لس کربښې ولیکئ.

۱. صلوات حفظ کړئ او په ډله ییزه توګه یې په ټولګي کې ولولئ.

**ارزونه:**

۱. د اسلام د ستر پیغمبر د شخصیت په هکله دې له زده کوونکې څخه پوښتنه وشي.

۲. له زده کوونکو څخه دې پوښتنه وشي چې صلوات یې یاد کړی دی او که نه؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست:

# امامت

**موخـه:**

له مذهبی اصلونو سره آشنا کېدل په ځانګړې توګه د امامت په برخه کې.

**پوښتنې:**

- آیا د امامت په معنا پوهیږئ؟
- آیا پوهیږئ چې امامان څو تنه ده؟

لوی خدای خپل پیغمبر را لیږلی دی چې د اسلام دین د نړۍ خلکو ته ورسوي او انسانانو ته لار ښوونه وکړي. د اسلام ستر پیغمبر درویشت کاله په بشپړه توګه زیار او مجاهدت وکړ هغسې چې د خدای تعالیٰ غوښتنه وه د اسلام دین د خدای بنده ګانو ته ورساوه. حضرت محمد (ص) خپل رسالت بشپړ کړ او د خدای پاک دین یې د هغه بند ګانو ته ابلاغ کړ. خدای تعالیٰ په قرآن کریم کې ټولې دینې مسئلې په کلی توګه بیان کړې دي. او د خدای تعالیٰ رسول هغه د خلکو له پاره تشریح کولې.

مګر د ټولو جزئیاتو تشریح په ځانګړې توګه راتلونکو نسلونو ته پوهو او امانت کارو کسانو ته اړتیا لیدل کېده چې د حضرت رسول اکرم(ص) له رحلت څخه وروسته دا مهم کار سرته ورسوي.

د اسلام ستر پیغمبر په یو حدیث شریف کې فرمایلي دي:

(زه دوه قیمتي څیزونه ستاسو په مینځ کې پرېږدم: د الله تعالیٰ کتاب او زما عترت (اهل بیت).



(c) ketabton.com: The Digital Library

امامان دوولس کسان دي چې لومړنی يې امام علي او وروستنی يې، حضرت امام مهدی امام زمان دی.

د امامانو نومونه مو په دويم ټولګي کې زده کړل، د ښه يادولو لپاره د ايمو نومونه يو ځلې بيا تکرارو:

| | |
|---|---|
| ۱-امام علي (ع) | ۷- امام موسی کاظم (ع) |
| ۲-امام حسن (ع) | ۸- امام رضا(ع) |
| ۳-امام حسين (ع) | ۹- امام محمد تقی (ع) |
| امام زين العابدين (ع) | ۱۰- امام علی التقی(ع) |
| ۵- امام محمد باقر(ع) | ۱۱- امام حسن عسکری (ع) |
| ۶-امام جعفر صادق (ع) | ۱۲- امام مهدی (ع) |

په راتلونکو کلونوکې به انشاء الله د ايمه اهل بيتو د شخصيت او ژوندانه سره آشنا شو.

**هځونه:**

۱. د دې لوست لنډيز په لسو کرښو کې وليکئ؟

۲. د امامانو د ندې توضيح کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست:

# معاد یاد قیامت ورځ

موخـه:

د معاد له مفهوم او څرنګوالي سره آشنایي.

پوښتنې:

- آیا د معاد په معنا پوهیږئ؟
- آیا پوهیږئ چې خدای تعالیٰ د قیامت په ورځ د ښو کارونو او بد کارونو له خاوندانو سره څرنګه چلند کوي؟

خدای تعالیٰ انسانان وروسته له مرګ په معلومه ورځ بیا ژوندي کوي. د دې ورځې نوم قیامت دی. د قیامت په ورځ ټول انسانان بیا ژوندي کېږي. خدای تعالیٰ عادل دی او پر هیچا ظلم نه کوي، د قیامت په ورځ نیک کرداره خلکو ته ثواب او ګناهکارانو او بد کارانو ته عذاب ورکوي.

په هغه ورځ نیک کردار خلک ډېر خوشحال او له خپلو کړنو څخه به راضي ښکاري، خو ګناهکاران به سخت غمجن او په کړاو اخته وي. هرچا چې په دنیا کې ښه کار تر سره کړی وي د هغه پایله د قیامت په ورځ کې ویني او هر هغه څوک چې بد کاریې کړی وي، پایله یې په خپله عملنامه کې ویني. نیک کرداره خلک په عزت او درناوی جنت ته ځي او ګناهکاران په ذلت او خواری جهنم ته بیول کیږي.

جنت هغه ځای دی چې پکې ټول هغه الٰهي نعمتونه، چې په دنیا کې یې ساری نه لیدل کېږي، شته دی، مګر جهنم یا دوزخ چې د بد کارانو ځای دی له اور نه ډک دی او دوزخیان په هغه کې په سختو عذابونو اخته وي.

موږ باید هڅه وکړو چې د اسلام د سپیڅلي دین د ارشاداتو سره سم ښه کارونه وکړو او د خدای تعالیٰ ښه بندګان شو او د قیامت په ورځ خوښ او خوشحال و اوسو او د جنت له نعمتونو څخه برخمن شو.

**هڅونه:**

۱. د قیامت ورځې نور نومونه هم لري، د والدینو او یا د جوماتو د ملا(امام) په مرسته د هغه نور نومونه ولیکئ.

۲. د قیامت ورځ په اړوند پنځه کرښې مطلب ولیکئ.

## ارزونه

۱. د قیامت په ورځ .............. ته ځي او ........ دوزخ ته ځي.............

۲. په قیامت کې ټول انسانان بیا ........... کېږي.

۳. زده کوونکي دې درې ډلې شي، یوه ډله دې د قیامت ورځ، دویمه ډله دې جنت او دریمه ډله جهنم یا دوزخ تشریح کړي. ښوونکی به هر یو ته نومرې ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست:

# د غیب جهان

موخـه:
د غیب له مفهوم سره آشنایي او د غیبي چارو په ضرورت او اهمیت پوهیدل.
پوښتنې:
- آیا پوهیږئ چې غیب څه دی؟
- ولې یو مسلمان باید په غیب باندې ایمان ولري؟

د خدای تعالیٰ مخلوقات زښت ډېر دي او د هستۍ عالم هومره لوی دی چې د هغه تصور انسان ته ډېر ګران دی. ډېرې سیارې خدای تعالیٰ پیدا کړي دي چې ځینې یې له ځمکې څخه ډېرې لیرې دي.

له بلې خوا، د هستۍ عالم یوازې هغه شیزونه نه دي چې موږ کولی شو هغوی ووینو، بلکې خدای تعالیٰ ډېر موجودات داسې پیدا کړي دي چې انسان نشی کولی هغوی ووینی. هغه شیزونه چې وجود لري ولې انسان نه شي کولی هغوی په دې نړۍ کې په سترګو سره ووینی، غیبی ورته وایي، ځکه د انسان له نظره غایب او پټ دي.

الله تعالیٰ د خپلو پیغمبرانو په واسطه موږ ته له دې غیبي موجوداتو خبر راکړی دی.

موږ مسلمانان په دې غیبي موجوداتو ایمان لرو، لکه دا لاندې موجودات چې زموږ له سترګو څخه پټ دي، ولې موږ په هغوی باندې ایمان لرو.

۱- ملایکې (پرښتې) ملا یکې ډېرې زیاتې دي، ولې د هغو لویې ملا یکې دادي: (جبرائیل،عزرائیل، میکائیل او اسرافیل علیهم السلام)



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د قیامت ورځ

۳- جنت او دوزخ

**هځونه:**

۱. زده کوونکي دې د مور او پلار او د مسجد د امام په مرسته د نورو هغو موجوداتو نومونه له ځان سره ولیکي کوم چې په سترګو نه لیدل کیږي.

۲. د درس متن په غور سره وګورئ او ووایئ چې انسان له کومه ځایه پوهیږي چې نور داسې موجودات هم شته چې په سترګو نه لیدل کیږي.

**ارزونه**

۱. نه لیدل کیدونکي شیان ............... لري چې موږ یې نشو لیدلای.

۲. مشهورې ملائکې عبارت دي له جبرئیل، میکائیل، ............ او .........

۳. هغه وګړي چې په لرې پرتو هیوادونو کې ژوند کوي په نه لیدل کیدونکو شیانو کې .................... دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه برخه: فقهی حکمونه

لسم لوست

## د اوداسه واجبات

موخـه:

د اودس له واجباتو سره آشنایی.

پوښتنې:

- د اوداسه واجبات یعنې څه؟
- په اوداسه کې کوم کارونه واجب دي؟

تیر کال مو زده کړل چې څرنګه اودس و کړو. ښه دی چې په دې و پوهېږو هغه کارونه چې په اوداسه کې سرته رسوو په دوه ډوله دی: یو ډول داسې چاري دي چې د هغو سرته رسول واجب دي او که چېرې په قصد سره هغه ترک کړو او سرته یې ونه رسوو، اودس مو باطل کېږي. دویم ډول هغه کارونه دی چې د هغو سرته رسول مستحب دي، یعني که چېرې هغه سرته ورسوو ډیر غوره دي او که سرته یې ونه رسوو اودس نه باطلیږي. اوس دې ته پام اړوو چې په اوداسه کې کوم کارونه واجب دي:

۱. نیت: کله چې وغواړو اودس وکړو، نیت کوو چې اودس کوم قربتاً الی الله، د دې ویل په ژبه لازم نه دي، بلکې په زړه کفایت کوي.
۲. د مخ مینځل: اوږ دوالی یې د تندي د ویښتانو له شین کېدو ځایه څخه تر زنې پورې اوعرض یې د منځنۍ او غټې ګوتې په اندازه.
۳. د ښی لاس پریمنځل. له څنګلو څخه د ګوتو تر سره پورې.
۴. د کیڼ لاس پریمنځل له څنګله څخه د ګوتې تر سر پورې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. د سر مسح، د سر مخامخ برخه له پاسه ښکته خواته مسح کول.

۶. د پښو مسح: لومړی د ښي پښې د ګوتو له سره تر بنده پورې، په ښی لاس مسح کوو او وروسته کیڼه پښه په کیڼ لاس په همدې ډول مسح کوو.

۷. ترتیب: ټول دا کارونه په کوم ډول چې وویل شو سرته رسوو، یعنی د نیت او د مخ د مینځلو څخه پیل کیږي او د کیڼې پښې په مسحه کولو باندې تمامیږي.

۸. موالات: یعني د اوداسه ټول کارونه یو به بل پسې جوخت او بې له بیلوالي سرته رسول.

**هڅونه:**

۱. د اوداسه د واجباتو او مستحباتو توپیر، توضیح کړئ.

۲. د اوداسه واجبات په خپلې کتابچه کې یاد داشت کړئ او هغه په تکرار سره ولولئ.

ارزیابي:

۱. د اوداسه واجبات هغو چاروته ویل کیږي چې په قصد سره ......... اودس باطل کیږي.

۲. د سر مسح یوله ......... د اودس دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوداسه مستحبات

**موخـه:**

د لمانځه له مستحباتو سره آشنايي.

**پوښتنې:**

- د لمانځه مستحبات يعنې څه؟
- په لمونځ کې کوم شيان مستحب دي؟

په تير لوست کې مو ولوستل چې د اوداسه مستحبات هغو څيزونو ته وايي چې که څېرې په اوداسه کې يې سرته ورسوو، ثواب لري او که سرته يې ونه رسوو، اودس نه باطل کېږي. د اوداسه ځينې مستحبات دلته لولو:

١. مسواک: مخکې له اوداسه څخه په خپلو غاښونو مسواک وهل. د اسلام پيغمبر (ص) مسلمانانو ته زياته توصيه کوله چې مسواک ووهئ. آن تردې چې په يو حديث شريف کې فرمايي: که چېرې زما د امت له پاره د ستونزې او مشقت سبب نه ګرځيده، مخکې له هر لمونځ څخه مسواک کول به مې واجب ګرځولي وای.

٢. بسم الله ويل: اودس په بسم الله ويلو سره پيل کوو.

٣. د دواړو لاسونو پريمنځل: مخکې له اودس نه خپل د واړه لاسونه تر مړوندونو پورې پريمنځو.

۴. مضمضه: درې ځله خپله خوله په اوبو مينځو.

۵. استنشاق: درې ځله خپله پوزه په اوبو مينځو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅونه:**

۱. د اوداسه مستحبات په خپلو کتابچو کې یاد داشت او په تکرار سره یې ولولي.

۲. د خپل جومات له امام څخه دې پوښتنه وکړي او څو مورده نور د اوداسه مستحبات دې هم پخپله کتابچه کې یاد داشت کړي.

۳. زده کوونکي دې په ټولګي کې اودس تمثیل کړي او ودې وایي چې کوم کارونه د اوداسه واجبات او کوم یې مستحب دی.

ارزونه:

۱. که چیرې د اوداسه مستحبات سرته ونه رسوو، اودس باطل ........

۲. مضمضه په اوداسه کې ....... ده.

۳. استنشاق په اوداسه کې.......دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوداسه موجبات او مبطلات

**موخـه:**

د اوداسه له مبطلاتو سره آشنايي.

**پوښتنې:**

- آيا پوهيږئ په کومو وختونو کې اودس کول واجب دی؟
- څه شيان اودس باطلوي؟

مخکې مو اودس زده کړ. اودس کول هميشه ښه کار دی او ثواب لري. مګر ځينې وختونه اودس کول واجبيږي. لکه هغه وخت چې غواړو لمونځ وکړو بايد اودس ولرو او لمونځ بې له اودسه باطل دی.

همدارنګه کله چې قرآن کريم لمس کوو بايد اودس ولرو او بې له اوداسه څخه پرقرآن کريم باندې لاس وهل حرام دي.

د خدای تعالیٰ په نومونو او د پيغمبر او دولسو امامانو په مبارکو نومونو بې له اوداسه څخه لاس وهل روا نه دي. که چېرې څوک غواړي پر هغوی لاس ووهي بايد اودس وکړي.آيا پوهيږئ چې کله اودس کوو، زموږ اودس تر کوم وخت پورې دوام کوي؟ زموږ اودس تر هغه وخته پورې دوام کوي چې ځينې کارونه مو سرته نه وي رسولي.

هغه کارونه چې اودس باطلوي (له مينځه وړي) د اوداسه مبطلات ګڼل کيږي.

د اوداسه ځينې مبطلات دادي:

۱. متيازي کول



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. غایط کول
۳. د غایط له ځایه څخه د باد وتل.
۴. خوب کول، په دا رنګه چې غوږ وانه اوري او سترګه ونه ویني.
۵. هغه ځیزونه چې عقل له مینځه یوسي، لکه: لیونتوب، مستي، بې هوښي.

**هڅونه:**

۱. د کومو چارو له پاره باید اودس وشي؟
۲. د اوداسه مبطلات په خپلو کتابچو کې یاد داشت کړئ.

**ارزونه:**

۱. د اوداسه مبطلات هغو کارونو ته ویل کیږي که چیرې موږ هغه سرته رسوو زموږ اودس ....... کیږي.
۲. یو د مبطلات د اوداسه .......دی.
۳. خوب کول په هغه صورت اودس باطل کوي چې......



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لمونځ معنوي او ټولنيزې ګټې

موخه:

د لمونځ له ګټې سره آشنايي

پوښتنې:

- ستاسو له نظره لمونځ څه معنوي اغيزې لري؟
- آيا لمونځ ټولنيزه ګټه لري؟

موږ مسلمانان د خدای تعالیٰ له حکم سره سم په يوه ورځ او شپه کې پنځه ځله لمونځ کوو. انسان چې کله لمونځ کوي د خدای تعالیٰ عبادت او بندګي سرته رسوي. عبادت د انسان له پاره د کمال سبب ګرځي، ځکه کله چې انسان عبادت کوي له لوی خدای سره اړيکې ټينګوي.

خدای تعالیٰ انسان او د هغه عبادت ته هيڅ اړتيا نه لري، بلکې انسان خدای(ج) ته اړ دی.

لمونځ د خدای تعالی تر ټولو غوره عبادت دی. لمونځ د دين ستنه ده. که چېرې د انسان لمونځ قبول شي نورې کړنې او( عملونه يې هم قبليږي او که چېرې لمونځ قبول نه شي، نور اعمال يې هم نه قبليږي لمونځ د مؤمن معراج دی، يعنی د انسان روح له لمونځ سره جوخت خوځښت اخلي او معنوي لوړ مقام ته رسيږي.

څوک چې لمونځ کوي هغه له ګناهونو څخه ځان ژغوري. له دې امله خدای تعالیٰ فرمايي: (أقم الصلاة إن الصلاة تنهی عن الفحشاء و المنکر){عنکبوت/۴۵}



(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنى لمونځ کوه، لمونځ کول (انسان) له فحشاء او منکر څخه منع کوي. په يوه اسلامي ټولنه کې چې ټول خلک لمونځ کوي، څوک چاته زيان نه رسوی او د هيچا په مالونو تيرى نه کوي او خپلې چارې او دندې په ښه توګه سرته رسوي.

په دې توګه، کله انسان په صحيح ډول او په هغو شرايطو چې د اسلام په سپيڅلى دين کې ښودل شوي دي، لمونځ وکړي، هم به دده نفس او اخلاق سم شي او هم به ټولنه د اصلاح او پر مختګ په لور روانه شي.

**هڅونه:**

١. د لمونځ ځانګړې ارزښت په دريو کرښو کې وليکئ.

٢. د لمونځ ټولنيز ارزښت په دريو کرښو کې وليکئ.

٣. ووایاست چې لمونځ څرنګه له فساد او فحشاء څخه مخنيوی کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لمونځ د صحت شرایط

موخه:

د لمونځ د صحیح کېدو له شرایطو سره آشنايي.

پوښتنې

- آیا په هر ډول کالیو کې لمونځ کولی شئ؟
- آیا پوهیږئ چې څه کارونه باید سرته و رسوو چې زموږ لمونځ صحیح شي؟

الله تعالی ډېر لوی ذات دی. واړه موجودات د خدای د عظمت او سترتوب په پرتله ډېر وړوکې او هیڅ څیز نه دي. مګر لوی خدای خپلې دروازې د خلکو په مخ نه دی تړلی، بلکې ټولو انسانانو ته یې بلنه او دستور ورکړی دی چې په ورځ کې پنځه ځله د هغه با عظمته درګاه ته ورشي او له هغه سره خبری وکړي، خو مهربان خدای ددې لیدنې کتنې له پاره شرایط ټاکلي دي، یعنې له موږ څخه یې غوښتي دي چې ځان پاک او سمبال کړو او په ځانګړې نظم او سموتتیا دهغه کتنې او لیدنې ته لاړشو.

د دې ځینی شرطونه دادي:

۱. اودس لرل: لمونځ کوونکی باید اودس ولري او بې اودسه نشې کولی لمونځ وکړي.

۲. پاکوالی: د لمونځ کوونکې ځان، کالي او د سجدې کولو ځای باید پاک وي، یعنې په پلیدۍ ککړ نه وي.

۳. اسلامي پټوالی (کالي اغوستنه): لمونځ کوونکی باید بې ستره او بربنډ (لوځ) نه وي. لږ تر لږه ضروري ستر نارینه وو ته داده چې عورت یې پټ وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اما د ښځو د پاره د ټول بدن پټول لازم دي، پرته له دواړو لاسونو تر بندونو، پښو تر ښنگرو او مخ څخه.

۴. کالي او ځای يي غصبي نه وي: د لمانځه کالي او ځای بايد دده شخصي مال وي او يا يې له خاوند څخه اجازت اخيستې وي. که چېري د نورو خلکو مال يې په غلا او يا په زور سره اخيستی وي له هغه سره لمونځ نه کيږي.

۵. د وخت رعايت کول

پنځه ګوني لمونځونه ځانګړي وختونه لري چې هر يو بايد پخپل وخت کې وشي. د لمانځه وختونه مو په دويم ټولګی کې ولوستل.

۶. مناسب ځای. د لمونځ ځای بايد ثابت وی، يعني ډير کښته او پورته او لړزيدونکی نه وي.

هڅونه:

۱. زده کوونکي دې په پنځو ډلو وويشل شي او د لوست په محتوا باندې دې پخپل مينځ کې خبرې اترې وکړي.
۲. له هرې ډلې دې يو تن د استازی په توګه و ټاکل شی او دلوست لنډيز دې په ټولګي کې ټولو زده کوونکوته بيان کړي.
۳. د لمانځه د صحيح کېدو شرايط له ياده زده کړئ.

ارزونه:

۱. که چېرې قصداً يو له دې ذکر شوی شرايطو په لمونځ کې رعايت نه کړو زموږ لمونځ ......... دی.
۲. نارينه په لمونځ کې لږ تر لږه بايد ............ ځان پټ وساتي.
۳. ښځې بايد په لمانځه کې ................ ځان پټ کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمونځ ارکان او واجبونه

**موخـه:**

د لمونځ له واجباتو سره آشنايي.

**پوښتنې:**

- د ستاسو له نظره د لمونځ واجبات او ارکان کوم دي؟
- د واجباتو او ارکانو تر مينځ څه توپير وجودلري؟
- که چېري د لمونځ ځينې واجبات ترک کړو، لمونځ باطلېږي؟

د لمونځ واجبات يوولس دي:

۱. نيت، يعنې د لمونځ اراده لرل.

۲. قيام، يعنې په لمونځ کې دريدل.

۳. تکبيرة الاحرام، يعنې د لمونځ په پيل کې الله اکبر ويل.

۴. قرائت، يعنې د حمد سورة او يو بل سورة شريف لوستل.

۵. رکوع يا ټيټوالی د خدای تعالیٰ په مقابل کې.

۶. سجده يا په ځمکه پريوتل د الله تعالیٰ په وړاندی.

۷. ذکر، يعنې د رکوع او سجدې په حال کې ذکر يا دعا لوستل.

۸. تشهد، يعنې په دوهم رکعت کې يا د لمونځ په آخري رکعت کې له دوهمې سجدې وروسته کښيناستل.

۹. سلام کول وروسته له تشهد څخه.

۱۰. ترتيب، يعنې هر يو د لمونځ له اجزاوونه پخپل ځای تر سره کول.

۱۱. موالات، يعنې پر له پسې د لمونځ اجزاوې اداء کول بې له ځنډه.

د لمونځ ارکان پنځه دي، چې که چېرې کم او یا زیات شي لمونځ باطل کېږي.

۱. نیت
۲. تکبیرة الاحرام
۳. د تکبیرة الاحرام ویلو په وخت کې قیام
۴. رکوع
۵. سجدې

که چیري په لمونځ کې یو واجب جزء قصداً کم یا زیات شي لمونځ باطلیږي او که کوم رکن کم یا زیات شي که قصدي وي یا سهوي، لمونځ باطل دی.

**هڅونه:**

۱. زده کوونکي دې د لمونځ واجبات له یاده زده کړي.
۲. زده کوونکي دې د لمونځ ارکان له یاده زده کړي.

**ارزونه:**

۱. که چېرې څوک په سهو سره یو جزء د لمونځ واجب پر ځای نکړي، دده لمونځ .........دی.
۲. که چېرې څوک د لمونځ رکن په سهوه سره ترک کړي دده لمونځ ......دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پنځو ګونو لمونځونو وختونه

موخه:

د پنځه ګونو لمونځونو له وختونو سره آشنايي.

پوښتنې:

- آيا پوهيږئ چې يو مسلمان په يوه شپه او ورځ کې څو وارې لمونځ کوي؟
- آيا د هر لمونځ وختونه پيژنئ؟

موږ پوهيږو چې موږ مسلمانان په يوه شپه او ورځ پنځه لمونځونه کوو.

هر لمونځ په ټاکلي وخت کې اداء کيږي. هر مسلمان همغسې چې لمونځ ورته زده وي، بايد د لمونځ وخت هم په ځيرکتيا سره و پيژني، ځکه که لمونځ له ټاکلي وخت څخه د مخه وشي سمه نه ده. په دې لوست کې غواړو د هر لمونځ صحيح وخت وپيژنو.

۱. د سهار لمونځ: په يوه شپه او ورځ کې لمړنی لمونځ چې يو مسلمان يې پر ځای کوي د سهار لمونځ دی. د سهار لمونځ د سهار له طلوع څخه تر لمرختلو پورې دی.

۲. د ماسپښين لمونځ: دويم لمونځ د ماسپښين لمونځ دی، او هغه وخت اداء کيږي چې کله لمر د آسمان له مينځ څخه لويديځ (غرب) خواته مايل شي.

۳. د مازديګر لمونځ: د مازديګر لمونځ د ماسپښين له لمونځ څخه وروسته اداء کيږي او ترهغه چې لمر پريوتلی نه وي د مازديګر لمونځ اداء کيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. د ماښام لمونځ: دماښام او یا مغرب لمونځ هغه وخت اداء کېږي چې لمر غروب کړی وي یعنې پریوتی وی او هغه سور والی چې د لمر له پریوتو څخه وروسته په ختیځ کې پیدا کېږی له منځه لاړشي.

۵. د ماخوستن لمونځ: د عشا او یا ماخوستن لمونځ د ماښام له لمونځ څخه وروسته اداء کیږي او د شپې تر نیمایي پوري وخت لري.

**هڅونه:**

۱. د لمونځ وختونه پنځه ځلي په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۲. په پنځو ډله ییزو ګروپونو سره د زده کوونکي د لمونځ د وختونو په اړوند خبرې اترې وکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لمونځ رکعتونه

موخه:

د پنځو لمونځونو د رکعتونو له شمیر سره آشنايي.

پوښتنې:

- آیا پوهیږئ چې د سهار لمونځ څو رکعته دی؟
- آیا پوهیږئ چې د ماسپښین لمونځ څو رکعته دی؟

لمونځونو دوه ډوله دي: واجب او مستحب. واجب لمونځونه باید هیڅکله ترک نه کړو، ځکه د دې ترک کول ګناه لري، مګر مستحب لمونځونه که چیرې اداء شي ثواب لري او که اداء نشي ګناه نه لري. واجب لمونځونه ډیر دي او په دې لوست کې یوازې د پنځو ګونو لمونځونو د رکعتونو په اړوند خبرې کوو.

۱. د سهار لمونځ: دوه رکعته اداء کیږي.

۲. د ماسپښین لمونځ: څلور رکعته اداء کیږي.

۳. د مازدیګر لمونځ: څلور رکعته اداء کیږي.

۴. د ماښام (مغرب) لمونځ درې رکعته اداء کیږي.

۵. د عشاء لمونځ (ماخوستن) څلور رکعته کولی شي.

دې ته مو باید پام وی چې د دې ټولو لمونځونو په لومړیو دوو رکعتونو کې حمد او یوه سوره له قرآن کریم څخه لولو، ولې په دریم او څلورم رکعت کې یا د حمد سوره او یا به څلور واړه تسبیحات وایو. تسبیحات اربعه دادي:

سبحان الله و الحمد لله و لااله الاالله و الله اکبر



(c) ketabton.com: The Digital Library

### هڅونه:

۱. زده کوونکی دي په څو ډلو وويشل شي او د لمانځه د رکعتونو په اړه دې پخپل مينځ کې خبرې اترې وکړي.

۲. تسبيحات اربعه ياد کړئ.

### ارزونه:

۱. آيا زده کوونکو د پنځو لمونځو نو رکعتونه زده کړي دي؟

۲. آيا زده کوونکي کولی شي و وايي چې په لومړي او دويم رکعت کې به څه لولي او په دريم او څلورم رکعت کې به څه ولولي(په کومو کې حمد سوره او په کومو کې څلور واړه تسبيحات يا حمد په يوازې توګه؟)



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څلور رکعتي لمونځ اداء کول

موخـه:

د څلور رکعتي لمونځ زده کړه

پوښتنې:

- آیا کولی شئ، څلور رکعتي لمونځ (لکه د ماسپښین لمونځ) اداء کړئ؟
- څومره د قرآني سورت له محتوا او پیغام سره بلد تیا لري؟

په دویم ټولګي کې مو زده کړه چې دوه رکعتـي لمـونځ څرنګـه اداء کېـږي. سږ کـال مـو زده کـړل چې څلـور رکعتـي لمونځونـه (لکـه دمـا سپـښین ، مـازدیګر او ماخوسـتن لمونځونـه) څرنګـه اداء کېـږي. د څلـور رکعتـي لمونځـو نـو لمړنـی دوه رکعته لکه د دوو رکعتي لمونځونو په ډول اداء کیږي. د بیا را یـادولو لپـاره یـو ځل بیا دوه رکعتی لمونځ تکرار وو:

وروسته له هغه چې اودس مو وکړ (۱) مخ په قبلې دریږو.(۲) نیت کـوو: یعنـی په زړه کې د خپل قصد خدای ته وایو. لکه په زړه کې وایو: دوه رکعته لمونځ د سهار کـوم قربتـاً الـی الله، تکبیـر الاحـرام وایـو(۳) د حمـد سـورة تـر پـایـه پـورې وایـو.(۴) د اخلاص سوره (قل هو الله احد) یا یو پوره سوره لولـو.(۵) رکـوع تـه ځـو پـه رکـوع کې خپل ملا هغو مره ټیټوو چې زموږ لاسونه د زنګنونو په مخ قرار و نیسي په دې حالت کې به وایو: سبحان ربی العظیم و بحمده.(۶)وروسته له رکوع څخه په بشپړه توګـه دریږو او وایو: سمع الله لمن حمده(۷) وروسته به سجدې ته ځو. د سجدې له پاره سر پر مهر یا ځمکه باندې کېږدو او وایو: سبحان ربي الاعلی و بحمده (۸) وروسـته بـه



(c) ketabton.com: The Digital Library

کښېنو او بیا به سجدې ته ځو، لکه اول وار (۹) وروسته بـه کښېنو او بیـا بـه ودرېږو او لکه د اول رکعت حمد او سورت لولو.

د پورته کېدو په حال کې په ټولو رکعتونو کې مستحب دي چې ووایو: بحول الله و قوته اقوم و اقعد (۱۰) وروسته د سورې له تمام کېدوڅخه د قنوت دعا وایو. یعنې د دوو لاسونو رغوي پورته کوو او دعا کوو، لکه دا قرآني دعا : ربناآتنا في الدنیا حسنة و فی الاخرة حسنة و قنا عذاب النار. نورې دعاوې هم په قنوت کې لوستلی شو، (۱۱) وروسته په همغه ترتیب چې وویل شو، رکوع ته ځو او بیا سجده کوو. (۱۲) وروسته له دویمې سجدې کښېنو او تشهد وایو. په تشهد کې وایو: أشهد أن لااله الاالله وحده لاشریک له و اشهد ان محمدا عبده و رسوله اللهم صل علی محمد و آل محمد. (۱۳) وروسته به سلام ورکوو: السلام علیک ایها النبي ورحمة الله و برکاته، السلام علینا و علی عباد الله الصالحین، السلام علیکم ورحمة الله و برکاته.

په څلور رکعتي لمونځ کې وروسته له هغه چې په دویم رکعت کې مو تشهد ووایه، سلام نه ورکوو او درېږو. په دریم او څلورم رکعت کې کولی شو یوازې د فاتحی سورة ولولو(بې له بل سورة) او کولی شو څلور واره تسبیحات ووایو: سبحان الله و الحمد لله و لااله الاالله و الله اکبر

وروسته به رکوع ته ځو لکه لومړی او دویم رکعتونه، وروسته دوې سجدې کوو. که چېرې لمونځ درې رکعتي وي تشهد به لولو او سلام ورکوو او که چېرې لمونځ څلور رکعتي وي، څلورم رکعت لکه د دریم رکعت په شان اداء کوو او وروسته له دوو سجدو څخه تشهد وایو او سلام ګرځو(ورکوو) او لمونځ تمامېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅونه:**

د سهار لمونځ اداء کړئ.

د مغرب (ماښام) او عشاء (د ماخوستن) لمونځونه، چې درې رکعتې او څلور رکعتي دي، دریم او څلورم رکعت به یې څرنګه کوو؟ ولیکئ.

څلور واړه تسبیحات د لمانځه په کوم ځای کې لوستل کیږي؟

**ارزونه:**

۱. زده کوونکي دې په ځانګړې توګه دوه رکعتي لمونځ (لکه د سهار لمونځ) په ښکاره ډول په ټولګي کې وکړي او ښاغلی ښوونکی دې په پوره دقت سره ګوري چې د هغوی لمونځ زده دی او که نه؟

۲. درې رکعتي او څلور رکعتي لمونځ دی هم په هماغه ډول تر سره کړي. او ارزونه دې وشي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

# نجاست او طهارت

**موخـه:**
د نجاست (ناولتیا) او طهارت (پاکوالي) له حکمونو سره آشنایی.

**پوښتنې:**

- آیا پوهیږئ کوم شیان نجس(مردار) دي؟
- آیا پوهیږئ کله چې یو شی نجس شي څرنګه پاک کېږي؟

تیـر کـال مـو زده کـړل چـې ځینـی شـیان نجـس دي او اوبـه نجاسـات پـاکوي. همدارنګه زده موکړل چې څرنګه په اوبو سره نجس شیان پاک کولی شي.

سږ کال به زده کړو چې داسې نجاسات شته دي کوم چې بي لـه اوبـو پـه نـورو وسیلو هم پاکیدای شي.

هغه نجاستونه چې ښایې له زیاتو سره یې تاسو سرو کار و لرئ، دادي:

۱. بول او غایط د انسان او د هغو حیواناتو چې غوښې یې حرامې دي.
۲. وینه (هغه وینه چې د حلالو حیواناتو له ذبحې وروسته پاتې کېږي، پاکه ده).
۳. میته یا مردار حیوانات (حلال غوښه وي یا حرامه غوښه)،
۴. سپي،
۵. خوګ

## مطهرات یا مهم پاک کوونکي دادي:

۱. اوبه: اوبه ډیرښه پاک کوونکې دي. که چېـري یـو شـی نجـس(مـردار شـوی وي) هغه په کمو اوبو (لکه د کوزې په واسطه) درې ځلې ووینځو پاکېږي او په روانو اوبو یا د ډنډ په اوبو یو وار به پریمنځو پاک کېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. لمر: د مثال په توګه که چېرې يوه ځمکه نجسه شي او عـين نجاست پکې نه وي، که چېرې ځمکه لنده شي او په لمر سره وچ شي پاکېږي.

۳. ځمکه: که چېرې د يو انسان بوټ يا څپلۍ نجسه شي، په هغه صورت کې چې عين نجاست په هغه کې نه وي او انسان څو ګامه د ځمکې پر مخ لاړ شي بوټ يې پاکېږي.

**فعاليت:**

۱. د نجاساتو ډولونه په خپلو کتابچو کې وليکئ؟

۲. وليکئ چې هر ډول نجاست څرنګه پاکيداى شي.

# دریمه برخه: آداب او اخلاق

شلم لوست

## د مور او پلار حقونه

موخـه:
د مور او پلار له حقونو سره آشنايي
پوښتنني:
- آیا پوهیږئ چې زموږ میندې او پلرونه پر موږ څه حقوق لري؟
- ولې مور او پلار پر موږ باندې حق لري؟

مور او پلار پر موږ باندې ډېر حقونه لري. هغوی په وړکتوب کې زموږ لـه پـاره زياتې ستونزې ګاللي دي او ډېرې ستړياوې يې زغملې دي. په قرآن کـريم کـې لولـو چې لـه خپـل مـور او پـلار سره نيکـې وکـړئ او لـه هغـوی سره پـه نرمـۍ او مهربـانۍ خبرې وکـړئ د اسلام پيغمبر(ص) فرمـايي: د خـدای تعـالیٰ رضـا د مـور او پـلار پـه رضا کې ده. درې ورونه وو چې يو له بل سره يې په يوه ځای کې کار کاوه. يو له هغـو څخه پرهيز ګاره ځوان و چې د خپل مور د رضايت او خوښۍ له پاره يې ډېـرې هڅـې کـولې او هـره ورځ يـې مخکـې لـه دې چې لـه کـوره بهرتـه ووځـي د مـور لاس بـه يـې ښکلاوه او د هغو په اجازه بـه خپـل کـار پسـې روانيـده. يـوه ورځ يـې مـور ويـده وه او هغه ددې له پاره چې له خپلې مورڅخه د تللو اجازت واخلي او له هغې سره خدای په امانۍ وکړي، لږ مودې ځنډ شو تر څو يې مور له خوبه ويښه شي. وروسته له هغه نه چې مور يې ويښه شوه له هغې سره يې خدای پـه امـاني وکـړه او ولاړ. کلـه چې خپلـو ورونو ته ورسيد هغوی و پوښته چې ولې ځنډ شوي؟ ويې ويل هڅه مې وکـړه چې د ځان له پاره په جنت کې يو ځای لاسته راوړم، ځکه ستر پيغمبر(ص) فرمايلي دي:



(c) ketabton.com: The Digital Library

(جنت د میندو تر پښو لاندې دی) . وروسته یې هغوی ته روښانه کړه چې ولې په ځنله سره راغلی دی.



**هڅونه:**

۱. د جومات له امام سره پر اولادونو د مور او پلار د حقونو یو لست تیار کړی.

۲. په څو کسیزو ډلو د مور او پلار د حقوقو په اړوند خبرې اترې او قضاوت وکړئ چې ولې مور او پلار پر موږ حق لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسجد آداب

موخه:
د جومات له آدابو سره آشنایي.

پوښتنې:
- آیا پوهیږئ چې جومات آداب لري؟
- د جومات په کومو آدابو پوهیږئ؟

مسجد په اسلام کې ډېر ارزښت لري. مسجد د خدای تعالیٰ د عبادت ځای دی، له همدې امله ویل کېږي مسجد د خدای کور دی. په مسجد کې لمونځ کول ډېر ثواب لري او تر هغه چې امکان وي نه ښایي چې خپل لمونځونه بی له مسجده په بل ځای کې وکړو. ولې باید پوه شو چې مسجد آداب لري چې مسلمان باید هغه پر ځای کړي.

۱. باید هر وخت مسجد ته ولاړ شي.
۲. کله چې جومات ته ننوځي ښي پښه به کېږدي او کله چې بیرته راوځي کیڼه پښه به وړاندې کېږدي.
۳. له اوداسه سره دې مسجد (جومات) ته ننوځي.
۴. کله چې مسجد ته داخل شي، دوه رکعته تحیت لمونځ دې د مسجد د درناوي له پاره وکړي. که چیرې واجب، قضایي او یا مستحب لمونځ کوي هم کفایت کوي.
۵. په مسجد کې خپل غږ پورته نه کړئ.

۶. په مسجد کې دې د خدای تعالیٰ په عبادت بوخت شئ او د دنیوي چارو له خبرو اترو څخه دې ډډه وشي.
۷. د مسجد په پاک ساتلو کې دې هڅه وکړي؛
۸. کله چې مسجد ته ځی پاک کالي دې واغوندئ او پر ځان خوشبو ولګوي او د هوږې او پیاز له خوړولو څخه ډډه وکړئ.

**هڅونه:**

۱. زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او د جومات د ادابو په هکله دې پخپل مینځ کې خبرې اترې وکړي.
۲. زده کوونکي دې د مسجد د روحاني په مرسته د مسجد د آدابو یو بشپړ لیست ترتیب کړي.

**ارزونه:**

۱. له زده کوونکو څخه دې د مسجد د آدابو په اړه څوپوښتنې وشي.
۲. آیا زده کوونکي په عملي توګه د مسجد آداب مراعاتوي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپلوانو حقونه

موخـه:

د خپلوانو له حقونو سره آشنايي

پوښتنې:

- آیا پوهیږئ چې زموږ خپلوان پرموږ څه حقوق لري؟
- که چېرې ستاسې له خپلوانو څخه يو ناروغه شي تاسو څه کوی؟

اقارب يعنی خپلوان او نږدې کورنې. خپلوان او اقارب پر موږ حقونه لري چې بايد هغه رعايت کړو. د اسلام په سپيڅلی دين کی د خپلوانو حقوقوته صله رحم او زږه سوی ويل کېږي. صله رحم، يعنې له خپلوانو سره اړيکې درلودل. خدای تعالیٰ له موږ څخه غواړي چې دخپلو خپلوانو سره ښې اړيکې او حسنه راشه درشه ولرو او له يو بل سره مرسته وکړو، څکه موږ ته ښايي چې خپلو خپلوانو سره تګ راتګ ولرو، د هغوی په غم او خوښـی کې ګډون وکړو، اوله هغوی سره مرسته وکړو دهغوی لـه غيبت او بد وينې څخه ډډه وکړو او د هغوی په اړه خير غوښتونکې واوسو.

**هڅونه:**

۱. د جومات د امام په مرسته د خپلوانو د حقوقو یو لست جوړ کړئ.

۲. د صله رحم معنی پخپلو کتابچو کې ولیکئ.

۳. د صله رحم په اړوند ستاسو نظر څه دی؟

**ارزونه:**

۱. زموږ دنده ده چې د خپلو خپلوانو او اقاربو سره ....... سخاوت ولرو.

۲. اقارب، یعنې..............

۳. صله رحم، یعنې..................



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند د چاپېریال ساتنه

موخـه:
له چاپیریال ساتنې سره آشنایي او هغه دندې چې موږ یې د هغه په وړاندې لرو.
پوښتنې:
- آیا پوهیږئ چې چاپېریال څه شی دی؟
- آیا پوهیږئ چې زموږ دنده د چاپیریال په وړاندې څه ده؟

دښـتـه، غـر، مکتـب او مدرسـه، کوڅـه، او زمـوږ د کـور انګړ زمـوږ د ژونـد چاپیریال ګڼل کیږي.

لکه څنګه چې موږ هڅه کوو خپـل ځان او کور پـاک و ساتو بایـد همغـسې د خپل د ژوند چاپیریال هم پاک و ساتو. موږ بایـد هڅه وکړو چې خپـل کـور، انګړ، کوڅه، ښار او کلی پاک و ساتو. ګندګۍ، خاورې او دوړې پخپلو ټاکلیو ځایونو کې واچوو او په کوڅه او شا و خوا کې یې وا نه چوو، ځکـه د هغې څخه میکروبونـه پـه چاپېریال کې خپرېږی او زموږ روغتیا ته زیان رسوي او ناروغـه کېږو . نـو لازمـه ده چې د ځان او نورو د صحت او روغتیا خیال وساتو.

د اسلام سپیڅلی دین موږ ته تل د پاکۍ او پاکوالي بلنه راکوي.

زموږ ستر پیغمبر(ص) فرمایلي دي پاکي او طهارت د ایمـان یـوه څانګـه ده) یعنې مسلمان باید د تل لپاره پاک وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعالیت:**

۱. زده کوونکي دې د چاپیریال په اړه یو لیست جوړ کړي چې کوم ځایونه چاپیریال ګنګل کېږي.

۲. زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او د چاپیریال په وړاندې دې د خپلو دندو په اړوند خبرې اترې وکړي او وروسته به د دوی استازي د هرې ډلې د نظر لنډیز په ټولګي کې و وايي.

۳. زده کوونکي دې د حدیث شریف په اړوند خبرې وکړي.

**ارزونه:**

۱. زده کوونکي دې د چاپیریال په وړاندې خپلې دندې بیان کړي او ښوونکي دې هغوی ته نومرې ورکړي.

۲. له زده کوونکو څخه دې پوښتنه وشي چې د اسلام پیغمبر د پاکوالي په اړوند څه فرمایلي دي.

ځلور وېشتم لوست

# د روغتیا ارزښت

موخـه: د روغتیا له ارزښت سره آشنايي.

پوښتنې:

- آیا پوهېږئ چې روغتیا او سلامتیا څومره با ارزښته ده؟
- د خپلې روغتیا د ساتنې لپاره باید څه وکړئ؟

روغتیـا او سـلامتیا د خدای تعـالیٰ لـه نعمتونـو څخـه دي او مـوږ بایـد ددې نعمت په قدر او ارزښت و پوهیږو د هغو د ساتنې لپاره هڅه وکړو. د اسلام سپیڅلی دین موږ ته لارښوونه کوي چې د خپلې روغتیا له پاره هڅه وکړو او له هر هغه څه نه چې زموږ روغتیا ته زیان رسوي ډډه وکړو.

موږ باید له ګټورو او پاکو خوړو څخه په بسیا توګه ګټه واخلو، د خپـل ځان، کالیو او چاپېریال پاکوالي ته تل پاملرنه وکړو. او له هغو خواړو او څښلو چې موږ ته زیان رسوی ډډه وکړو. له ډېر خوړلو، ناوړه خواړو، نه مینځل شوې میـوې او ناپاکو اوبو څخه ځان و ساتو.

باید د نسوارو، چلم او سګریټ څښلو څخه چې زموږ روغتیا او سلامتیا له مینځه وړي، ډډه وکړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅوني:**

۱. زده کوونکي دې د روغتيا او سلامتيا ارزښت پخپلو کتابچو کې وليکي.

۲. زده کوونکي دې د زيان لرونکو غذايي توکو يو ليست جوړ کړي.

**ارزونه:**

۱. ........ د خدای تعالیٰ له نعمتو نو څه دی.

۲. ړومبی ميوه ................. وروسته يې خورو.

۳. موږ بايد د ........... خوړلو او څښلو څخه ډډه وکړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**